# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد بدین بوم وبر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



محمد ایاز نوری
۲۰۰۸/۱۲/ ۱۷


## د "افغان ـ جرمن" د انترنتی جال سره د اصولیت د نه مراعاتولو له کبله خپلې قلمي اړیکي پرې کوم

دا چی د "افغان ـ جرمن" د انترنتي جال چلوونکي په خپل کار کی هغه اصول او قوانین چی باید دوی یې مراعات کړي، نه مراعات کوي او له بلی خوا خانونه خالص ملی شخصیتونه هم بولي، سر له دې شیبې زه خپله قلمی رابطه ورسره شلوم او هغه اخلاص او درنښت می چی پخوا ورته لاره اوس یې نلرم. په مشخص ډول غواړم دلته د ګرانو لوستونکو لپاره لاندې عرایض وړاندې کړم نور هر افغان حق لري خپل آزاد قضاوت وړباندې وکړي.

ـ همدغه تیره اونۍ د افغان – جرمن جال د یوه افغان لیکوال چی محترم آذین نومیده، یوه مضمون چی عنوان یې (ویرانی افغانستان امروز ریشه در ویرانی اندیشه های افغانی...) وه د نظر غوښتولو لپاره په جال کی ورکړ. زه به اتم کس وم چی پخپل اصلی نوم مې په لاندی متن خپله لیکنه البته د پوښتنې په ډول جال ته ورولیږله:

محترم آذین صاحب! "من محتویات نوشته شما را تایید وتمجید نموده در ضمن میخواهم نظر شما را درباره نقش حکومت نه ماهه حبیب الله بچه سقو و دولت های نادرشاه و ظاهر شاه را در ویرانی اندیشه های افغانی هم بدانم".

دا لیکنه زما مربوطه جال واخیسته، مګر د سایت مسوولینو پس له لوستلو هغه زیندۍ کړه او نشر ته یې ورنکړه...؟!. اوس زه د جال د مسؤولینو څخه چی په غالب ګمان **جنابان قیس کبیر، ولی احمد نوری او کریم عطایی دوی دي، پوښتم چی تاسو ولی او په کوم علت او اصولو زما دغه سؤال اعدام کړ؟**

به دوام البته دا اوس بالکل واضح خبره ده چی تاسو د پخواني پاچا ظاهر شاه او د هغه د تره د زوی یې داوود خان کللک پلویان یاست، چی دا مسأله ستاسو خپل اختیار دی، لیکن ما خو کوم غیر اصولی حرکت د خپلی پوښتنی په ذریعه نه ووکړی چی تاسو په ډیری بی احترامی او د دیمکراسی د اصولو په بشپړله نه مراعات زما سؤال ایسته غوزار کړ. مسأله واضح ده چی تاسو سره د دی چي ښه پوهیږئ چی د سقو او نادر کورنی کوم فجایع او ملی خیانتونه زمونږ ګران هیواد افغانستان ته کړي، لیکن بیا هم په شعوري توګه تاسو د نادر خان او ظاهر خان څخه پلوي کوئ او د افغانانو په سترګو کی خاورې ورشیندی. زه پخپل تحلیل وایم چی که د سقو زوی تور مخی حبیب الله د انګریزي کرغیرن پلان په ذریعه یو موقتي پُل وه د اصلی کس یعنی جنرال نادر خان د قدرت رسولو لپاره، نو دلته د هیواد د ننی ناورین او بربادۍ اصلی بنسټ ایښودونکي نادر خان او وریسی د هغه زوی ظاهر خان دي. دغه دواړه بادشاهان زمونږ د هیواد د استقلال د محصل غازی الحاج اعلیحضرت امان الله خان رحمة الله علیه باندی سیاسی داوطلب شول چی ګویا ته د خپلی مشي پر اساس نشي کولائ افغانستان ته خدمت وکړي، ته په سیاست پوره نه پوهیږې او مونږ ستا څخه افغانستان ته ډیر مفید یو، حتی ته حق نلرې چی افغانستان کی هسی د عادي تبعه په توګه هم ژوند وکړې. البته دا د دې سیاسی تیاتر ظاهري مخ وه مګر په باطن کی دا تولنه نقشه دغه دواړو بادشاهانو د انګریزي استعمار څخه تر لاسه کوله او په افغان ویاړمن خو په سیاست کی نابلده ملت باندی یې په پوره صادقانه ډول پلي کوله.

افغانانو! تاسو یوه شیبه تامل وکړئ کله چی یو شاهي خاندان او یا هم یو پاچا د خپل اقتدار دوام د خپل ولس په وګي ساتلو او جاهل ساتلو کی ولټوي، د دې څخه به بل ملي خاین او ملي مجرم خپل ملت نور څوک وي...؟!. دا اصل کټ مټ د نادر شاه په څلور کلن او د هغه د زوی ظاهر شاه په څلویښت کلن کرغیرن دور کي په کلي توګه

ثابت دئ. کوم وخت چی نادرخان د خپل لوی مشر غازی امان الله خان په نوم د افغانستان خلک دوکه او ځان يې د بادشاهۍ مقام ته ورساوه، د انګريز په امر يې لمړنی دنده په هيواد کې د ټولو آزادی پالوونکو وژل او نابودول ول. دا وظيفه هغه په خورا صداقت سره سرته رسوله. د نادر خان د مجرم او جاني شخصيت لپاره يواځی کفايت کوي چی د نمونې په ډول د ګران او ملي شخصيت غازی او بيا په سرو وينو کی لامبدلی غلام نبی خان چرخي او د غازي او بيا شهيد عبدالرحمن خان لودين (کبريت) د وژلو صحني يوه شيبه خپلو سترګو کې مجسمې کړو...؟!. ليکن د لوی خدای په عدالت کی راګير نادرشاه بيا پس له څلورو کلنو ظلم او خيانت د يوه عادي افغان له خوا داسې خپله سزا وليده چې ټول افغانستان ورته حيران پاتې شوی وه. نادر شاه حتی په جسمي ډول هم په خپل ګبر کې آرام پرينښودل شو او قبر يې په مرميو سوری سوری شو. وګوری دا منظره (۱) دا د ظلم او غداری بدله...؟!




(۱) د نادر شاه د قبر ودانی د کابل د مرنجان د غوندۍ پر سرپه ډير ابتر
حال کې، فبروری ۲۰۰۸م کال ....

او د همدې ديرش کلن جنګی اړودوړ په دوام کې يو افغان هم حاضر نه شو چې د غازی اعليحضرت الحاج امان الله خان قبر ته حتی يو وړوکی ګاټی هم ورغوزار کړي. (۲)




(۲) د غازي اعليحضرت مرحوم الحاج امان الله خان زيارت په جلال آباد کی

د اکو د تیم غړي هم د غازی امان الله خان نوم ته چکي وهي او هم د نادر- ظاهر نوموته ته!! پداسی حال کی چی اعلیحضرت امان الله خان او نادریان یو بل نفي کوي. **دا صادقانه نه ده چی یو څوک په یوه وخت کی هم په غازی امان الله خان مین وي او هم په نادري مکارۍ او جفاکارۍ کورنی...!!**

زه د یوه افغان په حیث ظاهر شاه د افغانستان د اوسني ناورین او له تصور څخه وتلي بربادۍ (مور) بولم. زما په تحلیل دغه ټولواک ظاهر شاه وه چی په خپله څلویشت کلنه نا لایقه بادشاهی کی یی د داوود خان کودتا ته سړک قیر کړ او بیا د هغه مغرور او لیوني د تره زوی سردار داوود د کمونیستی خلقی – پرچمي کودتا ته سړک پوخ کړ. د خلق او پرچم هیواد پلورونکي رهبران او د اسلام تش په نامه جهادیان د همدغه کاغذی بابا؟؟ په نس کی رالوی شول. د ظاهرشاه له ذلته ډک راتګ په ۲۰۰۲ م کال کی له ایتالیا څخه هغه هم په داسی حال کی چی هیواد په بشپړه توګه د انګریز او امریکا له خوا نیول شوی وه، پخپله ثابتوي چی دا خاندان تر کومي کچي په بهرنیو پورې ترلی وه (۳). په دې موضوع باید چی په تفصیل لیکنې وشی، چی هر حقیقي ملی افغان به په راتلوونکی کی خپلي څیرنې پرې وکړي. لیکن د "افغان - جرمن" د انترنتي جال مسؤولین په شعوري توګه دغه پورتني حقایق چی په نادري کورنۍ وارد دي، نه مني. زه له اوسنه هغه ربښتینو افغاني لیکوالانو او څیرونکو ته مبارکي وایم چي حقیقت لیکي او د حقایقو سره له دې فاني نړۍ څخه ځي.



**(۳) پخوانی پاچا محمد ظاهر شاه چی د مشهور کارملي پرچمی جانی رشید دوستم او نورو هیواد پلورونکو له خوا د کابل په هوایی ډګر کی د ارګ په لور بدرقه کیږي، اپریل ۲۰۰۲م کال**